

# مختصر سیرتِ رسول صلی اللہ علیہ والہ وسلم

(سوالاً جواباً)

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوت اسلامی)
ترجمہ:
ٹرانسلیشن ڈیپارٹمنٹ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# مختصر سيرتِ رسول (سوالاً جواباً)

**دعائے عطّار:** يا ربَّ المصطفٰى! څوک چې دا رساله "مختصر سيرتِ رسول (سوالاً جواباً)"اولولي که واوري. هغوئي ته په سُنّتو د عمل کولو توفيق عطا کړې او جنَّتُ الفردوس کښې ئې د خپل آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي جوړ کړې-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُودِ شريف فضيلت

چا چې په ما باندې يو ځل درود شريف اولوستو الله پاک په هغه باندې 10 رحمتونه نازلوي او څوک چې په ما باندې 10 ځله دُرُودِ پاک اولولي الله پاک په هغه باندې 100 رحمتونه نازلوي او څوک چې په ما باندې 100 ځله دُرُودِ پاک اولولي الله پاک د هغه د دواړو سترګو په مينځ کښې ليکي چې دا د نِفاق او دوزخ د اور نه آزاد دے او هغه به د قيامت په ورځ د شهيدانو سره ساتي- (معجم اوسط، 252/5، حديث: 2735)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

سوال: د الله پاک آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څوک دے د هغوئي د نوم او نسبت مبارک په باره کښې اووائيئ؟

جواب: زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک آخِري نبي دے او د هغوئي نوم بارک "محمد" (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) دے- د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نسبت شريف د حضرت عدنان پورې په ثابتيدو باندې ټول علمائے کرام اتفاق کوي خو د هغوئي نه مخکښې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پورې په شميره او نومونو کښې اختلاف دے، پاک نسب ئې دا دے: حضرت محمد مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بن عبدالله بن عبد المطلب بن هاشِم بن عبد مَناف بن قُصَی بن کِلاب بن مُره بن کعب بن لُؤی بن غالب بن فِهر بن مالک بن نَضْر بن کَنانه بن خُزیمه بن مُدرِکه بن الیاس بن مُضَر بن نِزار بن مَعَد بن عَدْنان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم اجمعين-

(بخاري، باب مبعث النبي، 573/2)

سوال: رحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کوم نبي په اولاد کښې دے؟

جواب: حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت سيِّدُنا ابراهيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام په اولاد کښې دے- (اسلام کی بنیادی باتیں، 74/3)

سوال: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نسب مبارک په څومره واسطو سره حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام ته رسي؟

جواب: د بخاري شريف مطابق د حضرت عدنان پورې په 21 واسطو باندې اتفاق دے- (بخاری، باب مبعث النبی، 573/2) د دې نه پس د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام پورې د واسطو په باره

کښې 4 اقوال دي: اووه، نهه، پینځلس او څلویښت- (عمدۃ القاری، 11/ 564) شارحِ بخاري مفتي شریفُ الحق امجدي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: راجح څلویښت دي- (نزھۃ القاری، 4/ 674)

سوال: د حضور نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تعلق د کوم خاندان سره وو؟

جواب: د هغوئي تعلق د عرب د مشهور او عزت منده خاندان "قریش" سره وو- په مسلم شریف کښې دي: اللّٰه پاک د حضرت اسماعیل عَلَیْہِ السَّلَام په اولاد کښې کِنانه خوښ کړو او په کِنانه کښې ئې قریش او په قریش کښې ئې بني هاشم او په بني هاشم کښې ئې زه خوښ کړم- ( مسلم ،ص962،حدیث:2276)

سوال: خوږ آقا (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) کله دنیا ته تشریف راوړو؟

جواب: د مشهور قول مطابق په "عامُ الفیل" کښې په 12 ربیع الاول د ګل په ورځ (مطابق 20 اپریل 571ء) ئې دنیا ته تشریف راوړو- (دلائل النبوۃ للبیھقی، 1/ 74، حدیث:31۔ فتاویٰ رضویه، 26/ 414 مفهوما)

سوال: د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دنیا ته د تشریف راوړو سره ترلي څه واقعي بیان کړئ-

جواب: ځیني واقعي دا دي: (1) د ټولي دنیا بُتان نسکور راغورځیدلي وو- (سیرت حلبیه، 1/103) (2) د فارَس مَجُوسیانو (یعني د اور عبادت کوونکو) د زرو کالو نه بَل شوے اور سمدستي مړ شو- (3) د کسریٰ په محل باندې زلزله راغله- (4) ساوه دریاب وَچ شو- (دلائل النبوۃ للبیھقی، 1/ 126) او (5) د مور مبارکي حضرت آمني رَضِیَ اللہُ عَنْھا د پاک بدن نه وتونکي نور د شام محلونه روښانه کړل- (مسند امام احمد، 6/ 87 ، حدیث :17163)

سوال: د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مور پلار مبارکو نومونه او د هغوئي لنډه پیژندګلو

اوکړئ-

جواب: د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د والد صاحب نوم ”عبد الله“ او د مور بي بي نوم ” آمنه“ دے- (سيرت حلبيه ، 1 / 48 ماخوذا) حضرت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل والد صاحب حضرت عبدُ المطلب ډير نيازبين ځوي وو، د هغوئي په تندي مبارک کښې به نورِ محمدي د پوره شان او شوکت سره ځليدو، هغوئي د ښائست او د شخصيت کمال آئينه او پاک او پرهيزګار وو- (سيرت مصطفے، ص58 ملخصاً) د هغوئي د مور بي بي نوم ”فاطمه بنتِ عمرو“ وو- (السيرة النبويه لابن هشام، ص 47) د حضرت آمني رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د والد صاحب نوم وَهب بن عبدِ مَنَاف او د مور بي بي نوم بَرَّه وو- (دلائل النبوة للبيهقى، 183/1) هغه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ډيره زياته پرهيزګاره او د ايمان خاونده زنانه وه- هغه د قريشو په زنانوو کښې په سيرت، نسب او فضيلت کښې د ټولو نه ممتازه وه- (دلائل النبوة للبيهقى، 102/1ملخصا) حضرت عبدُ المطلب د خپل ځوي د پاره د يوې داسې زنانه په لټون کښې وو کومه چې د ښائست سره سره په سيرت، نسب او شرافت او پرهيزګارئ کښې د ټولو نه ممتازه وي- د الله پاک شان وو چې دا ټولې خوبيانې په حضرت آمنه بنتِ وَهَب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کښې موجودې وې- هم دغه شان په 24 کاله عمر کښې د حضرت عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت آمنې بي بي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره نکاح اوشوه- (سيرتِ مصطفے، ص 58ملتقطا)

سوال: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم ته د باقاعده پئيو ورکولو شرف چا ته حاصل شو؟

جواب: د مکې مکرمې د عزت مندو خلقو به دا رواج وو چې هغوئي به خپل بچي په بيديا کښې اوسيدونکو قبيلو ته د ماشومتوب تيرولو د پاره ليږل- د هغې وجه دا وه چې

د کلو د خالصه خوراکونو کولو سره د ماشومانو اندامونه او بدن مضبوط وي او د هغوئي فصاحت او بلاغت عربي زده کړي او دوئي هم په فصاحت او بلاغت سره خبرو کولو والا جوړ شي- په دي وجه آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت حليمه سعديه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا ته اوسپارلو- د هغوئي تعلق د "بنو سعد" قبيلې سره وو کوم چې د بني هوازن يو ښاخ وو، دې قبيلې په ښه عربئ او فصاحت کښې ډير کمال لرلو- حضرت حليمه د خپلې قبيلې سره مکې مکرمې ته د ماشوم په رضاعت باندې د اخستو د پاره راغله- د حضرت حليمې بي بي د قسمت ستورے په بام ولاړ وو چې هغې ته د دوؤ کالو پورې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د پئيو ورکولو او د هغوئي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) د روزنې پالنې کولو سعادت حاصل شو- (آخری نبی کی پیاری سیرت ، ص17)

سوال: زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مور پلار د دنيا نه رخصتيدل کله او څنګه اوشول؟

جواب: زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې مور حضرت آمنې بي بي رَضِیَ اللهُ عَنْهَا په ګيډه مبارکه کښې وو او د حمل شريف ئې چې دوه مياشتې پوره شوې نو د هغوئي والد حضرت عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د تجارت د سفر نه په واپس کيدو په مدينه کښې د خپل والد صاحب د نيکه بابا (د مور د اړخ نه د نيکه بابا) په کور "بنو عدي بن نجار" کښې د يوې مياشتې بيمارئ نه پس د 25 کالو په عمر کښې وفات شو او هم هلته په "دارِ نابغه" کښې خاورو ته اوسپارلے شو- (مدارج النبوة ، 14/2 ماخوذا) کله چې نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شپږو کالو شو نو د هغوئي مور بي بي هغوئي د ځان سره کړل او مديني

منورې ته ئې د خپلو خپلوانو سره د ملاقات يا د خپل خاؤند د قبر د زيارت د پاره تشريف يوړلو، په دې سفر کښې حضرت اُم ايمن رَضِیَ اللهُ عَنْهَا هم د دوئي سره وه- د هغه ځائے نه په واپسئ په " ابواء" نومې کلي کښې حضرت آمنې بي بي رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د دې دنيا نه تشريف يوړلو او هم هلته خاورو ته اوسپارلے شوه- (مدارج النبوة ، 14/2 ماخوذا)

سوال: حضرت اُمِّ ايمن رَضِیَ اللهُ عَنْهَا څوک وه؟

جواب: دا هغه زنانه ده چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مور بي بي حضرت آمنې رَضِیَ اللهُ عَنْهَا د وفات کيدو نه پس د حضور د روزنې پالنې سعادت د دوئي په نصيب شو- حضور نبي رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دوئي په باره کښې دا جمله فرمائيلې وه: اَنْتِ اُمِّيْ بَعْدَ اُمِّيْ يعني زما د سکې مور نه پس تاسو زما مور ئې- (المواهب اللدنيه،97/1 ماخوذا)

سوال: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ماشومتوب صفتونه بيان کړئ-

جواب: هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د نورو ماشومانو په شان چغې نه وهلې او نه به ئې ژړا فرياد کولو- د 2 مياشتو په عمر کښې هغوئي خپوړې شروع کړې، د 3 مياشتو په عمر کښې ئې اودريدل شروع کړل، د 4 مياشتو په عمر کښې ئې په ديوال د لاس اينبودو سره هر خوا تګ شروع کړو، د 5 مياشتو په عمر کښې ئې د ګرځيدو پوره طاقت حاصل کړے وو، د 8 مياشتو په عمر کښې به ئې داسې خبرې فرمائيلې چې په خبره به ئې انسان نبه پوهيدو، د 9 مياشتو په عمر کښې ئې فصيح خبرې شروع کړې- هغوئي چې د خپل عُمر په وړومبئ حصه کښې کومې خبرې اوکړې هغه اَللّٰهُ اَکْبَرُ کَبِيْرًا وَّالْحَمْدُ لِلّٰهِ کَثِيْرًا وې-

(یعني الله پاک د ټولو نه لوئي دے او هر قسمه حمد او تعریف د الله د پاره دے) د څانګو څنګیدو په وخت به هغوئي د سپوږمۍ سره خبرې کولې او په خپله ګوته مبارکه چې به ئې کوم طرف ته اشاره کوله، سپوږمۍ به هغه طرف ته ښکته کیدله- (آخری نبی کی پیاری سیرت ، ص 21)

سوال: د نبوت د اعلان نه مخکښې د عربو څه حالات وو؟

جواب: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتلو نه مخکښې د عربو اخلاقي حالت ډیر خراب وو، د جهالت په وجه په هغوئي کښې د بُتانو عبادت شروع شوے وو، دې خلقو د معبودِ حقیقي الله پاک پریښودو سره کاڼي، وَنې، سپوږمۍ، لمر، غر، دریاب وغیره خپل معبودان ګڼړل او په خپلو لاسونو باندې د خاورو او کاڼړو نه د جوړ کړے شو بُتانو عبادت به ئې کولو- د عقیدو د خرابیدو سره سره د هغوئي معمولات هم ډیر خراب شوي وو، قتل، شوکې، جوارې، شراب څکل، حرام خوړل، زنانه اغوا کول، جینکۍ ژوندۍ ښخول، عیاشي، فحش خبرې کول، غرض هر قسمه بدۍ او بد کارونه به دوئي کول-
(سیرت رسول عربی، ص44 ملخصاً)

سوال: وړومبۍ وحي کله او څنګه نازِله شوه؟

جواب: چې کله الله پاک حق بام ته د رسولو او په کائنات باندې د خپل نعمت پوره کولو اراده اوفرمائیله نو خپل آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ئې د خلقو د هدایت او لار ښودنې د پاره دنیا ته راولیږو- د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عمر مبارک څلویښت کاله وو او هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به "غارِ حِراء" کښې په عبادت کښې مشغول وو چې ناڅاپه په غار کښې

هغوئي ته يوه فرښته راغله- (هغوئي حضرت جبريل عَلَیْہِ السَّلَام وو چا چې به هميشه د الله پاک پيغام د هغه رسولانو ته رارسولو) فرښتي يو دم اووئيل: ''اِقْرَاْ'' يعني اولوله- هغوئي اوفرمائيل: زه لوستونکے نه يم- فرښتي هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم را اونيول او ډيره په مينه ئي د هغوئي سره ښه جُخته غاړه ميلاؤ کړه بيا ئي پريښودلو او اوئي وئيل: ''اِقْرَاْ'' خو هغوئي بيا هم هغه جواب ورکړو- په دريم ځل فرښتي بيا هغوئي په ډير زور سره خپلي سيني ته رانزدې کړل او د پريښودو سره ئي اووئيل:

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَۚ(۱) خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍۚ(۲) اِقْرَاْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُۙ(۳) الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِۙ(۴) عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْؕ(۵)

(پ 30،العلق:1تا5)

ترجمهٔ کنزُ الايمان: اولوله د خپل رَبّ په نوم سره چا چې انسان د تينګې وينې د ځاځکي نه پيدا کړو اولوله او ستا رَبّ ډير کريم دے کوم چې د قلم سره ليک لوست انسان ته اوښودلو په کومې چې (هغه) نه پوهيدلو-

(سيرت مصطفےٰ ،ص 108)

سوال: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل خاندان ته د دينِ اِسلام دعوت په کوم انداز کښې ورکړو؟

جواب: کله چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبوت اعلان اوکړو نو د الله پاک په حکم باندې ئي خلقو ته د بتانو د عبادت کولو په ځائے د يو الله د عبادت کولو دعوت ورکړو،

خو په شروع کښې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا دعوت پټ اوساتلو او هغوئي به د قريشو په عامو محفلونو کښې ښکاره دعوت نه ورکولو- چې کله دا آيت مبارک

وَاَنْذِرْ عَشِيْرَتَكَ الْاَقْرَبِيْنَ ﴿۲۱۴﴾ (پ 19، الشعراء: 214)

**ترجمهٔ کنز الايمان:** او اے محبوبه خپل نزدې خپلوان اويَرَوَه- نازل شو نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خلقو ته ښکاره دعوت شروع کړو- هم دغه شان هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صفا غونډۍ ته اوختل ته او د قريشو مختلفو قبيلو ته ئې آواز اوکړو: اے بني فهر! اے بني عدي! تر دې پورې چې خلق راجمع شول او څوک چې رانغلل نو هغوي خپل نمائنده راوليږلو چې اوګوري چې آخر څه خبره ده- کله چې خلق راجمع شول نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اوفرمائيل: که زه دا اووائيم چې د غونډۍ نه بل اړخ ته ډير غټ لښکر دے کوم چې په تاسو باندې حمله کول غواړي نو آيا تاسو به ما رښتونے اوګڼئ؟ ټولو اووئيل: آؤ جي! مونږ به ستاسو تصديق کوو ځکه چې مونږه تاسو هميشه په رښتياؤ وئيلو اوريدلي ئې- اوئې فرمائيل: نو بيا زه تاسو د قيامت د سخت عذاب نه ويرووم کوم چې د ټولو د وړاندې دے- (بخارى، 3 / 294، حديث: 7470)

**سوال:** هغه کومه موقع وه چې په غرونو باندې مقره فرښته د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضره شوه؟

**جواب:** د نبوت د اعلان په لسم کال چې کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طائف والوو ته د اسلام دعوت ورکولو د پاره تشريف يوړلو نو د ايمان راوړو په ځائے هغوئي، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ډير تکليفونه اورسول چې د هغوئي نعلين (پيزار) مبارک د وينې نه

ډک شول- کله چې هغوئي د هغه ځائے نه واپس تشريف راوړو نو د غرونو فرښته په خدمت کښې حاضره شوه او عرض ئې اوکړو: اے د الله رسوله! تاسو چې څنګه غواړئ حکم اوکړئ که چرې اجازت راکړئ نو اَخشَبَین (د طائف دوه مضبوط او اوچت غرونه) په دوئي اُلټا کړم- د دې په جواب کښې هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل چې زه دا نه غواړم چې دوئي هلاک شي بلکه زما طمع ده چې الله پاک د دوئي د شاګانو نه داسې بنده ګان پيدا کړي کوم چې به صرف د الله پاک عبادت کوي او د هغه سره به څوک شريک نه جوړوي- (بخاری،386/2،حدیث:3231 ۔ سیرتِ رسولِ عربی، ص 294)

سوال: په کومه موقع باندې پيريان د حضور صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شول؟

جواب: د طائف د سفر نه په واپسئ په "نخله" نومې ځائے کښې د شپې د تهجدو په لمونځ کښې هغوئي د قرآنِ مجيد تلاوت کولو چې د پيريانو يوه ډله د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضره شوله او چې قرآن ئې واوريدو نو دا ټول مسلمانان شول- بيا چې کله هغوئي واپس لاړل نو خپل قوم والا ته ئې اووئيل چې په مکه مکرمه کښې د پيريانو ډلې په ګڼړ شمير کښې اسلام قبول کړو- د قرآنِ مجيد د سورۀ جن په اولنو آيتونو او سورۀ احقاف کښې د دې ذِکر موجود دے- (سیرتِ مصطفٰے ، ص 145،146)

سوال: خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مکې نه د مدينې په لور کله هجرت اوفرمائيلو؟

جواب: په مکه مکرمه کښې د مسلمانانو د شميرې زياتيدل کافِرانو نه شو زغملے، څکه هغوئي په مسلمانانو باندې ډير ظلمونه شروع کړل او په دې حال کښې حضور

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مسلمانانو ته د مديني منورې په لور د هجرت کولو اجازت ورکړو او په آخره کښې ئې پخپله هم د مديني منورې په لور هجرت اوکړو- کافِرانو معاذ الله د هغوئي د شهيد کولو منصوبه جوړه کړې وه خو د دې باوجود زمونږه آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې امانت داره وو چې د هجرت په شپه ئې حضرت علي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته د مکې والوو امانتونه اوسپارل او اوئې فرمائيل چې امانتونه خپلو حقدارانو ته اوسپاره او بيا مديني ته راشه- هم دغه شان حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کافِرانو په سرونو خاورې باد کړې او د هغوئي د سترګو وړاندې ئې ښکاره تشريف يوړلو او هغوئي ترې هډو خبر نه شو- دلته په مدينه منوره کښې مسلمانانو د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د راتلو ډير انتظار کولو چې ناڅاپه يوه ورځ چا غږ اوکړو: "اے مديني والوو! تاسو چې د چا انتظار کوئ هغه د رحمت قافله رارسيدلې ده!" انصارو چې دا واوريدل نو د نعره تکبير آواز ئې اوکړو او د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هر کلي د پاره د خپلو کورونو نه راووتل او ټول ښار کښې د الله اکبر چغې شوې- (سيرت مصطفے،ص 155 تا171 ملخصاً)

سوال: د جنګِ بدر حال بيان کړئ-

جواب: جنګِ بدر د کُفر او اِسلام ترمينځه وړومبے او ډير مشهور جنګ دے کوم چې په 17 رمضان المبارک 2 هجرئ د مکې او مديني ترمينځه د "بدر" په علاقه کښې اوشو- د مسلمانانو سره د جنګ سامان ډير کم وو او ټول ورسره صرف 313 کَسان وو خو په مقابله کښې ئې د جنګ په سامان پوره د زرو (1000) جنګيالو لښکر وو- په دې موقع نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا دعا اوکړله: "اے الله پاکه! که چرې دا يو څو کَسان

مره شول نو بيا به تر قيامته پورې په مخ د زمکه ستا عبادت کوونکي پاتې نه شي-" هم داسې الله پاک د مسلمانانو د مرستې د پاره پينځه زره (5000) فرښتې نازلې کړې او د مسلمانانو هغه عظیمُ الشانه فتح نصيب شوه چې د اسلام د عزت جنډا سر لوړه شوه- الله پاک د جنګِ بدر د ورځې نوم (يومُ الفرقان" کيښودو- په دې جنګ کښې د مسلمانانو د فتح مبين په باره کښې په مسلمانانو د احسان کولو په باره کښې الله پاک په قرآنِ مجيد کښې ارشاد اوفرمائيلو:

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ (پ 4، اٰل عمران: 123)

**ترجمۂ کنز الایمان**: "او بے شکه الله په بدر کښې ستاسو مدد اوکړو چې کله ستاسو سره هيڅ سامان نه وو او د الله نه ويريږئ چې دغه شان تاسو شکر ګزاره جوړ شئ-"

(سیرتِ مصطفٰی، ص 210 تا 233 ملخصاً و ملتقطاً )

سوال: صلحِ حديبيه څه ده او قرآنِ پاک دې له څه نوم ورکړے دے؟

جواب: په ذو القعده 6ھ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مدينې منورې نه 1400 صحابۀ کرام د ځان سره کړل او د عمرې ادا کولو د پاره روان شول- خو د مکې کافِرانو نه غوښتل چې هغوئي مکې ته داخِل شي نو دغه شان د هغوئي د دښمنئ په وجه مسلمانانو په هغه کال عمره ادا نه کړے شوه او هغوئي په راتلونکي کال عمره ادا کړه- په دې موقع باندې يوه صلح نامه اوشوه کومې ته چې "صلحِ حديبيه" وئيلے شي- په ظاهره دا يوه مغلوبانه صلح وه خو په قرآنِ مجيد کښې الله پاک دې ته د "فتحِ مبين" لقب ورکړے دے-

وروستو واقعوو اوښودله چې په حقیقت کښې هم دغه صلح د فتحو چابي ثابته شوه او ټولو اومنله چې واقعي ده چې صلح حدیبیه یوه داسې فتحِ مبین وه کومه چې په مکه کښې د اسلام د خپرولو او بلکه د مکې د فتح کولو ذریعه جوړه شوه- (سیرتِ مصطفےٰ، ص 346 ملخصاً وبتغیر)

سوال: د فتحِ مکې په موقع د نبئ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کرم سلوک څنګه وو؟

جواب: د فتحِ مکې نه پس د هغوئي مخې ته هغه کافِران موجود وو چا چې په هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئي په صحابه کرامو علیھِمُ الرِّضوَان باندې ډیر ظلمونه کړي وو، په لارو کښې ئې ورته ازغي اچولي وو، په پاکو بدنونو ئې ورله پلیت خیزونه غورځولي وو، د وژلو حملې ئې پرې کړې وې، د هغوئي صحابهٔ کرام ئې شهیدان کړي وو، د مکې په پریښودو ئې مجبوره کړي وو، په هغوئي ئې بهتان لګولے وو، اَلغَرَض! هغه کوم ظلم وو کوم چې دوئي نه وو کړے- نن هغه ټول د هغوئي په مخکښې د مجرمانو په حیثیت د هغوئي مخې ته وو- که هغوئي غوښتل نو د هغوئي نه به ئې سم بدل اخستے وو خو د الله پاک آخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هیڅ انتقامي کاروائي اونکړه، هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کرم په لهجه کښې اوفرمائیل: لَاتَثْرِیْبَ عَلَیْکُمُ الْیَوْمَ فَاذْهَبُوْا اَنْتُمُ الطُّلَقَآءُ یعني نن په تاسو هیڅ تور نشته، لاړ شئ! تاسو ټول آزاد ئې- په قِسمه قِسم تکلیفونو رسوونکو دښمنانو باندې د فتح موندلو او د هغوئي سره د داسې ښه سلوک کولو بل هیڅ مثال نه میلاویږي- (شرح الزرقانی علی المواہب اللدنیہ، 3/449، ملخصاً ۔ آخری نبی کی پیاری سیرت ، ص 106)

سوال: د فتحِ مکې نه پس د مدینې د انصار صحابهٔ کرامو سره د کومې خبرې فکر پیدا شو؟

جواب: د فتحِ مکې نه پس د مدينې منورې انصار صحابهٔ کرامو په خپل مينځ کښې وئيل چې الله پاک زمونږ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د مکې مکرمې فتح عطا کړه، دا ښار د هغوئي د زيږون او ماشومتوب تيرولو ځائے دے، دې سره سره د هغوئي خاندان او قبيله هم دلته آباده ده- کيدے شي چې اوس هغوئي دلته ميشته شي او مونږه پريږدي- کله چې دا خبر حضورِ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته اورسيدلو نو هغوئي انصارو ته اوفرمائيل: اوس خو زمونږه ژوند او وفات هم ستاسو سره دے او اوئي فرمائيل که چرې هجرت نه وے شوے نو زه به په انصارو کښې يو کَس ووم- (سيرتِ ابن هشام ، ص475 ـ سيرتِ سيد الانبياء، (مترجم )،ص 484 )، که چرې خلق يوې وادئ يا يو غار ته ځي او انصار بلې وادئ ته تګ شروع کړي نو زه به د انصارو غار او وادئ ته ځم- (بخارى ، 3 / 116 ، حديث : 4330)

سوال: د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کومې کومې معجزې دي؟ يو څو پکښې بياني کړئ-

جواب: الله پاک خپل خوږ او آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم له ډيرې زياتې معجزې ورکړې وې، په هغې کښې بعضې دا دي:

(1) قرآنِ کريم کومه چې د ټولو نه عظيمه (غټه) معجزه ده-

(2) د سپوږمئ دوه ټوټې کيدل-

(3) معراج-

(4) د غيبو خبرونه ورکول-

(5) د پانړو او وَنو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته سلام کول-

(6) د کجورې د تنې د هغوئ ﷺ سره محبت کول-

(7) د کانړو تسبيح کول-

(8) په لږ شان خوراک کښې برکت راتلل چې ډيرو خلقو ته اورسي-

(9) د هغوئ ﷺ د ګوتو مبارکو نه د اوبو چينې جارې کيدل-

(10) د بيمارانو روغيدل-

سوال: معجزهٔ شق القمر څنګه واقعَ شوه؟

جواب: د نبئ پاک ﷺ په معجزو کښې يوه مشهوره معجزه شق القمر (د سپوږمۍ دوه ټوټې کيدل) هم ده د کومې ذِکر چې په قرآنِ پاک او حديث کښې موجود دے- واقعه څه داسې ده چې مکې والوؤ حضور ﷺ ته د يوې معجزې ښودلو خواست اوکړو نو هغوئ سپوږمۍ دوه ټوټې کړه او معجزه ئې اوښودله- (بخاری، 2/511، حديث: 3637) حضرت عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ فرمائي چې د رسول الله ﷺ په زمانه کښې سپوږمۍ دوه ټوټې شوه، يوه ټوټه د غر د پاسه او بله ټوټه د هغې نه لاندې، بيا رسولِ اکرم ﷺ اوفرمائيل ګواه اوسئ- ( بخاری، 3/339، حديث: 4864) کله چې هغوئ سپوږمۍ دوه ټوټې کړه او خلقو ته ئې اوښودله نو د قريشو کافِرانو اووئيل: محمد (ﷺ) په جادو باندې زمونږه نظر بند کړے دے، په دې باندې د هغوئ د ډلې خلقو اووئيل چې که چرې دا زمونږه نظر بندي ده نو بهر چرته به هم چا ته سپوږمۍ دوه ټوټې په نظر نه وي راغلې- اوس چې کومې قافلې راروانې دي د هغوئ انتظار کوئ

او د مسافرو نه معلومه کړئ، که چرې په نورو ځیونو کنبې هم سپوږمئ دوه ټوټې لیدلے شوې وي نو بے شکه معجزه ده- هم دغه شان د سفر نه د راتلونکو نه چې کله معلومه کړے شوه نو هغوئي اووئیل چې مونږه لیدلې ده چې په دغه ورځ سپوږمئ دوه ټوټې شوې وه- (ترمذی، 189/5، حدیث: 3300۔ جامع الاصول فی احادیث الرسول، 367/11، حدیث: 8937) اوس د مشرکانو سره د انکار څه وجه نه وه خو بیا ئي هم د جهالت په طور دې ته جادو وئیلو-

سوال: د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقِ کریمه په باره کنبې څه اووائیئ-

جواب: د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښه اخلاقو په باره کنبې پخپله د اخلاقو خالق دا فرمائیلي دي:

وَ اِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِیْمٍ ﴿۴﴾ (پ29، القلم:4)

**ترجمۂ کنزُ الایمان:** "او یقیناً ته په عظیم اخلاقو باندې ئې-" نبئ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محاسنِ اخلاق په ټولو اړخونو کوټلے (پوره) وو- یعني حِلم او عفو، رحم او کرم، عدل او انصاف، سخاوت، قرباني، میلمستیا، د زور زیاتي نیشتوالے، بهادري، لوظ پوره کول، ښه معاملې، صبر او قناعت، نرمي خبرې، مخ اوري، عاجزي، مساوات، غمخوري، سادګي، او د عاجزئ او انکسارئ په شان ټول محاسن په هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کنبې د ټولو نه زیات وو او د هغوئي اخلاق دومره ښه وو چې حضرت عائشې رَضِیَ اللهُ عَنْهَا په یوه جمله کنبې د هغې صحیح نقشه جوړه کړې ده او ارشاد ئي فرمائیلے دے چې كَانَ خُلُقُهُ الْقُرآنَ یعني د قرآنِ پاک په تعلیماتو پوره پوره عمل دا د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اخلاق وو-

(دلائل النبوه للبیهقی، 309/1۔ سیرت مصطفی، ص 599-600 ملخصاً)

سوال: حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپله ورځ او شپه په څومره برخو کښې تقسیم کړې وه؟

جواب: هغوئ خپله شپه او ورځ په دریو برخو کښې تقسیم کړې وه۔ یوه برخه د الله پاک د عبادت د پاره، دویمه د عامو خلقو د پاره او دریمه د خپل ذات مبارک د پاره۔

(سیرتِ مصطفے، ص 586)

سوال: د حضورِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُلیه مبارکه بیان کړئ۔

جواب: حضرت اَنس بن مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُلیه مبارکه بیانوي او دا خبره فرمائي چې هغوئ نه ډیر لوَړ او نه ډیر وړوکي قد والا وو بلکه په خلقو کښې د درمیانه قد مالک وو۔ خوږ ور رنګ نه غنم رنګے نه زیات سپین وو۔ ویښته ئې نه ډیر نیغ وو او نه ډیر ګُولګوتي بلکه خم داره وو۔ (بخاری،487/2،حدیث: 3547) ما چرته داسې ریښمو له ګوتې نه دي وروړې کوم چې د نبئ پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د لاس مبارک د تلي نه زیات نرم وي او ما چرته داسې خوشبو یا عطر نه دي بوئي کړي کوم چې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوشبو نه زیاته خوشبو کوي۔ (بخاری، 489/2، حدیث: 3561) په "شمائلِ ترمذي" او "شفا شریف" وغیره کښې دي چې د نبئ اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک رنګ سپین وو په کومه کښې چې سُرخي ګډه وه، بالکل د چونې یا سپن شان رنګ مبارک ئې نه وو بلکه په سپین مخ مبارک باندې ئې نرئ نرئ سُرخي ګډه وه، او په دنیا کښې دا رنګ خوښولے شي خاص طور عربو والا ئې خوښوي۔ او په جنت کښې خوښ رنګ د سرو زرو دے، علمائے کرام فرمائي چې: الله پاک په دنیا کښې نبئ کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته دا دواړه

رنګونه عطا کړي وو او په سپین رنګ کښې سُرخي ګډه وه چې له وجې به ئې رنګ ځليدو- (الشمائل المحمدیہ،ص19،حدیث:6۔ الشفا،155/1 ملخصاً) حضرت کعب بن مالِک رَضِیَ اللہ عَنْہُ فرمائي چې کله به حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوشحاله شو نو د هغوئي مخ مبارک به داسې ځليدو لکه چې د سپوږمۍ يوه ټوټه ده- (بخاری، 488/2، حدیث: 3556) شيخ الحديث حضرت علامه عبدُ المصطفٰے اعظمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په خپل کتاب "سیرتِ مصطفٰی" کښې ليکي چې د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخ مبارک باندې به خوله لکه د لعلونو په شان ځليده او په هغې کښې به د مشکو او عنبرو نه زياته خوشبو وه- (سیرتِ مصطفٰی، ص 564)

سوال: د رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د شهزادګانو او شهزادګو نومونه اووائيئ-

جواب: زمونږ د نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دريو شهزادګانو هم قول دے او د دوؤ هم، په "خزائنُ العرفان" کښې د 4 هم ذِکر شته خو په هغې کښې اختلاف دے- په "تذکِرۃ الانبياء" کښې دي چې: د هغوئي (صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) ځامن وو: قاسم، ابراهيم، عبدُ الله- (تذکرۃ الانبیاء ص827) حضرتِ علّامه عبدُ المصطَفٰے اعظمي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ ليکي چې: په دې خبره باندې د ټولو مؤرخينو (تاريخ ليکونکو) اتفاق دے چې د حضورِ اقدس صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اولادِ کرامو شميره شپږ ده- دوه ځامن حضرتِ قاسم او حضرت ابراهيم (رَضِیَ اللہُ عَنْہُما) او څلور لونړه حضرت زينب، حضرت رقيه، حضرت اُمِّ کلثوم او حضرت فاطمه (رَضِیَ اللہُ عَنْہُنَّ) خو بعضې مؤرخينو دا وئيلي دي چې د هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو ځوي عبدُ الله (رَضِیَ اللہُ عَنْہُ) هم دے د چا لقب چې طيِّب او طاهر دے- د دې قول په بنياد د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مقدّس اولاد شميره اووه ده يعني درې ځامن او څلور لونړه- (سیرتِ مصطفی ، ص687)

د نبئ پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ټول اولاد د حضرت خديجې رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه وو صرف د ابراهيم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه علاوه، څوک چې د حضرت ماريه قبطيه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه دے (شرح الزرقانی على المواهب اللدنيه، 316/4) او دا ټول د رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ژوند کښې وفات شوي وو خو د حضرت سيده فاطمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه څوک چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وصال نه شپږ مياشتې پس وفات شوه-

(تفسير قرطبى، پ 22، الاحزاب، تحت الآية: 59، الجزء: 14، 179/7۔ المواهب اللدنيه، 395/1)

سوال: د اُمّهاتُ المؤمنين (يعني زمونږه د خوږو مئيندو) نومونه اووائيئ؟

جواب: د نبِي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاکو بيبيانو په شميره کښې اختلاف دے- په يولسو د ټولو اتفاق دے- په کومو کښې چې د شپږو حضرت خديجه، حضرت عائشه، حضرت حفصه، حضرت اُمِّ حبيبه، حضرت اُمِّ سلمه، حضرت سَودَه رَضِیَ اللهُ عَنْهُنَّ د قريشو د قبيلې نه او څلور پاکې بيبيانې يعني حضرت زَينب بنتِ جَحش، حضرت ميمونه، حضرت زينب بنت خزيمه، حضرت جويريه رَضِیَ اللهُ عَنْهُنَّ د عربو د نورو قبيلو نه دي او يوه حضرت صفيه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا غير عربي د بني اسرائيلو نه ده- (المواهب اللدنيه، 401/1-402 ملخصاً )

سوال: د حجة الوداع په موقع باندې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خلقو ته په کومو لفظونو کښې د برابرئ درس ورکړے وو؟

جواب: نبئ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حجة الوداع په تاريخي خطبه کښې د جهالت د زمانې د خانداني فخر، د رنګ او نسل د برترئ او د قوم او ژبې تعصب ختم کړو او د مساواتو يعني د برابرئ درس ئې ورکړو او دا ښکلې اُصول ئې اوفرمائيل: اے خلقو! بے شکه

ستاسو رَبّ یو دے او بے شکه ستاسو پلار (آدم عَلَیْهِ السَّلَام ) یو دے- واوروئ! یو عَرَبي ته په یو عجمي (غیر عرب) باندې او یو عجمي ته په یو عربي باندې، یو سور سپین ته په تور باندې او یو تور ته په سور سپین باندې هیڅ فضیلت ترلاسه نه دے خو صرف د تقویٰ په وجه- (مسند امام احمد، 127/9، حدیث: 23548۔ سیرتِ مصطفیٰ، ص 529)

سوال: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څومره حجونه او څومره عمرې ادا کړې دي؟

جواب: د هجرت نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یو حج او څلور عمرې ادا کړې- (مسلم، ص 504، حدیث: 3034 )

سوال: نبئ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپل مرضِ وِصال کښې څه وصیت فرمائیلو؟

جواب: اُمُّ المؤمنین حضرت اُمّ سلمه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا فرمائي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپل مرضِ وصال (یعني په کومه بیماریٔ کښې چې ئې ظاهري وفات شریف اوشو په هغې) کښې فرمائیل: "لمونځونه په پابندیٔ سره ادا کوئ او د خپلو غلامانو خیال اوساتئ-"

(ابن ماجه، 282/2، حدیث:1625)

سوال: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مرضِ وِصال کیفیت (حالت) څه وو؟

جواب: د هجرت په یولسم کال په 20 یا 22 صفر المظفر د الله پاک آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جنتُ البقیع ته د نیمې شپې تشریف یوړلو، چې د هغه ځائے نه ئې واپس تشریف راوړلو نو طبیعت مبارک ئې خراب شو- د یو څوو ورځو پورې ئې ناروغتیا ډیره زیاته شوه- (سبل الهدیٰ و الرشاد، 233/12 ملخصاً ۔ سیرتِ مصطفیٰ، ص 542) هغوئي د ټولو پاکو بیبیانو په اجازت سره د حضرت عائشې بي بي رَضِیَ اللهُ عَنْهَا په حجره مبارکه کښې تشریف فرما شول- (شرح الزرقانی علی

المواهب ، 83/12 ملخصاً) د ګل په ورځ، د ربيع الاول په مياشت کښې هغوئي د دې فاني دنيا نه ظاهري پرده اوفرمائيله- د مشهور قول مطابق په 12 ربيع الاوّل د هجرت په يولسم کال هغوئي په ظاهري طور د دې دنيا نه پرده اوفرمائيله-

(طبقات ابن سعد، 209/2ـ فتاویٰ رضويه، 416/26)

اگلے ہفتے کا رسالہ





عالمي مدني مرڪز فيضان مدينه محله سوداگران پراڻي سبزي منڊي ڪراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net